Ï تاریخ دمضمون آزموینه / لنډه کیسه

احمد سهار له خوبه پاڅید او په بیړه یې لمونځ وکړ، بیایې خپل کتاب را واخیست ترڅو د کلنۍ آزموینې له پاره چمتووالی ونیسي.

د مهال ویش سره سم د احمد لومړنۍ آزموینه د تاریخ مضمون ؤ. لوست یې په خورا مینې او شوق پیل کړ، خو د احمد سترګې په یوه سرلیک ولویدې چې لیکل شوي Ä(افغان ولس تل خپله وینه د هیواد د ساتنې له پاره قربان کړې او د خپلواکۍ ستر ویاړ یې ترلاسه کړې دی.)

احمد د ډیر ژور سوچ وروسته له خپل پلار څخه وپوښتل چې پلار جانه! موږ ولې د هیواد پر وړاندې قرباني ورکوو، ولې Ïومره په خپل هیواد ویاړو او ګټه یې نشو ترلاسه کولی؟

پلار یې ورته وویل، چې زویه! ټول افغانان په خپل هیواد مین دي، له هیواد سره مینه یې د ایمان جز دی. د تاریخ په اوږدو کې تل افغانانو زبرځواکونه مات کړي Ï ì.

افغانانو په شلمه پیړۍ کې هم د خپلو میړانو په ترڅ کې سترځواکو هیوادونو لکه انګلیس او روس ته ماته ورکړه، خپل هیواد یې ورڅخه آزاد او خپلواکي یې وګټله. هر خارجي استعمارګر چې د تاریخ په اوږدو کې په افغانستان یرغل کړې، ماتې یې خوړلي او همدا ماتې یې بیا د استعماري ځواک د سقوط سبب شوې ده. له همدې کبله تاریخ پوهان ‎Ûافغانستان ته د امپراطوریو قبرستان (جرګه) وایي. افغانان هیڅکله نه غواړي چې نور هیوادونه افغانستان ته راشي او بیا دلته خپلې واکمنۍ پرموږ وچلوي.

احمد وویل، پلار جانه دا درسره منم؛ خو چې افغانان دومره په وطن مین او سرونه ورنه قربانوي، نو بیا ولې زموږ هیواد شاته پاتې دی، ولې د پوهې کچه ټیټه ده، ولې بیا زموږ هغه په هیواد سر ورکوونکي او مین وطنوال خپل مسؤلیت د هیواد په وړاندې نه اداء کوي، ښه ته ښه او بد ته بد نه وایي؟

پلار یې بیا د ډیرې اوږدې ساه په اخیستو سره وویل، چې زوی جانه! کاشکې دا فکرونه له ټولو سره وۍ ì ! د هیواد د دفاع په خاطر ټول افغانان هر ډول قربانۍ ته حاضر وای.

احمد وویل، نو دا ولې ټول ولس په ګډه د وطن په جوړولو او سمسورولو کې په کار لاس نه پورې کوي؟

پلار جانه! وګوره چې زموږ په هیواد کې څومره زیاتې وژنې رواني دي، زموږ بې ګناه هیوادوال په جنګ او جګړو کې ساه اخلي، د هیواد ملي شتمنۍ او عامه ګټو ته څومره زیان اړول کیږي. خلک په ناامنۍ کې ژوند کوي، نو بیا زموږ ویاړ په څه کې دی، موږ په دې خاوره کې چې کومې ککړۍ خاورې کړې آیا هغوی ته بې احترامي نه ده؟

ویاړ او تاریخ زما دا نه دی، چې زه تل په جنګ او جګړو کې ژوند وکړم، هیواد مې وران او ویجاړ وي، ځوانان مې شهیدان شي، میندې او خویندې مې بورې او کونډې شي، آیا دې ته زه دویاړ نه ډک تاریخ ووایم، نه هیڅکله؛ زما د ویاړ نه ډک تاریخ هغه دی، چې زما په هیواد کې د ټوپکو تجارت ودریږي، د ټوپکو او بمونو سوداګرله هیواده وشړá شي، د یوالي تغر دا افغانانو په منځو کې سره وغوړیږي او آرام ژوند د ټولو افغانانو په زړونو کې ځای ونیسي؛ نو زه په دې تاریخ ویاړم.

پلارجانه! زما په لاس کې چې د تاریخ په نوم کتاب دی، له دې تاریخ نه زه بیزاره شوم، زه اوس غواړم چې ښوونکي ته ووایم، نور دغه تاریخ په دې ښه ولولي، چې زموږ نوی نسل ته یو پیغور پاتې نشي، بس نور تاریخ ته باید بدلون ورکړو، د جنګ او جګړو تاریخ د هیواد په آبادیو او جوړولو باندې واړوو.

پلار ورته وویل، زویه او س له دې خبرو تیر شه، درس دې ولوله او آزموینې ته ځان چمتو کړه.

احمد وویل: پلار جانه! ما چې دا څوکرښې ولوستلې، ذهن مې اوس ناکراره دی افسوس راځي، چې زما د هیواد بچي ولې د نادرستو احساساتو له کبله سرونه قربانوي. زه دا منم چې زموږ نیکونو رښتیني او سپیڅلې مبارزې او سربښندنې کړي. ویاړ یې ټولو افغانانو ته ور په برخه کړي، زه هم په دې تاریخ ویاړم؛ خو بیا ځینې د هغوی د سربښندنو او مبارزو څخه ولې غلط تعبیر کوي، زموږ پلرونو او نیکونو د سترځواکو هیواد ونو څخه آزادي وګټله، خو بیا موږ ولې په خپلو کې سره نه جوړیږو او ولې د تاریخ زرینې کرښې په تورو کروښو بدلوو.

زرین تاریخ موږ ته د خپلو نیکونو او پلرونو څخه را پاتې دی، زه اوس نه غواړم چې زما د سربښندونکو اتلانو د تاریخ نوم ورک شي او باید چې یرغلګرو هیوادونو ته تل ځلانده او عبرتناکه درس چې مو ورکړې، په تاریخ کې پاتې وي.

داچې موږ په خپلو کې دومره بدبخته شوی یو، چې د پردیو په غلطو خبرو او لمسون ژر غولیږو او په خپل ګډ کور کې ناخوالې زیږوÄ. نو بیا د څه لپاره ویاړ پرځان کوو! که پر خپلې میړانې، مبارزې او روښانه تاریخ باندې فخر کوو. نو دا په حقیقت کې په وطن مین وګړي دي او که تش په نوم ویاړي بیا د وطن تاریخ په ټوله نړۍ کې شرموي.

پلار یې ورته وویل، چې احمد زویه! رښتیا ته یو پوه او هوښیار هلک یې، ته کولی شي، چې نورو زده کوونکو سره د هیواد پالنې په اړه بحث وکړې؛ ترڅو دوی هم ستا همفکره واوسي، دوی بیا د خپلې کورنۍ له غړو سره همدا شان مناظرې وکړي، څو خلک ویښ شي، چې رښتا پخوانیو مبارزینو او سربښندونکو د هیواد په ساتنه او ژغورنه کې سرونه قربان کړي، خو دا څو کلونه موږ د بدبختیو په لومه کې بند پاتې یو، چې یو بل سره په خپلو کې وهو.

زه ځم دا ټولې خبرې په جومات کې له خپلو کلیوالو سره شریکوم، ځکه ټول کلیوال د هیواد پروړاندې کوم مسؤلیت چې ستا په شان لري، ټول یې په ګډه سره اداء کړي.

شیرمحمدامیني »ستانکزی«

همیشه کتابی همراه خود داشته باشید

مطالعه و کتابخوانی کاری بسیار حساس و مهم است کتاب می توانند در شمار دوستان ما در آیند . ما می توانیم به جستجوی آن ها برویم تا ما را به خودمان بشناسانند .

اما این توانایی را نیز دارند که در ما تاثیر کنند و درهای زندگی را به روی ما بگشایند یا ببندند . می توانند ما را در پناه خود گیرند یا از میان بردارند کتاب ها چون زبانند که بهترین و در عین حال بدترین چیزها است نخست باید به این باور برسید که خواندن کتابِ خوب یکی از سرگرمی‌های لذت بخش است کتاب و مطالعه جزء اساسی زنده گی است کتاب مجموعه از افکار و اندوخته های فرهیخته گان نسل های بشری است کتاب و مطالعه رول مهم و اساسی را در زنده گی روزمره دارد و مطالعه را باید یک بخش از زنده گی روزمره گردانید چیزی را که میتوان از ۳۰ سال تجارب بدست آورد با مطالعه عمیق میتوان در یک ساعت حاصل نمود مطالعه ذهن را فعال نگهمیدارد فرهیخته گان که به قله های بلند موفقیت رسیده اند همه اش از برکت کتاب و مطالعه بوده و امروز شاهد پیشرفت و ترقی های گوناگون جهان که هستیم همه اش را میتوان از برکت کتاب و مطالعه عنوان نمود نه تنها باید در خواندن کتاب سهم بارز داشت بلکه در نگهداشت آن هم باید سهم ارزنده تری داشت چرا که در آن اندوخته های بزرگان نهفته است و با بی اعتنایی به کتاب میتوان اندوخته های یک عمر از بزرگان را محو ساخت که نباید چنین شود در نتیجه باید گفت که کتاب یک بخش مهم از زنده گی است و مطالعه را باید جزء اساسی زنده گی حساب نمود و خطاب به جوانان باید نمود که وقت گرانبهای خود را صرف اوقات بیهوده ننموده و در اوقات فارغ کتاب و مطالعه را فراموش ننموده مطالعه را برای خود یک سرگرمی و یا تفریح عنوان کنند چون چشم امید ما جوانان ما هستند و باید نیروی فکری خود را تقویه نموده و میتوان از طریق مطالعه فکر وذهن خود را تقویت بخشید و یگانه راه موفقیت به قله های بلند مطالعه است.

عبدالاحمد »فیضی«

مطالعه د ذهنونو دودې لپاره بله ډیوه ګڼلی شو

پوهه انسان له غلطو لارو څخه ژغوري او په هغه لار یې برابره وي، کوم چې پکې د خیر، ښیګڼې او پرمختګ سبب کیدای شي. نو د علم ترلاسه کول د ژوند تر پایه پر ټولو انسانانو فرض دي، چې د دغه بې پایه ثمرې نه خوند واخیستل شي، ځکه علم پای نلري او د یو سمندر په شان روان وي.

داچې زموږ په بیوزله او جنګ ځپلي هیواد کې د علم وړانګې پرخلکو څومره اغیزې کړې او یاداچې دوی څومره له دغه وړانګو ګټه پورته کړېده، لاملونه یې په هیواد کې د څو لسیزې جنګونه، د اقتصاد ټیټوالی او نورې ناخوالې وي، چې زموږ د ځوانانو د زده کړو په مخنیوي کې رول درلودلی دی.

خو اوس افغانان په دې پوه شوي، چې د تعلیم نه نور بله داسې ګټه نشته، چې پخپلو بچیانو یې پیرزو کړي، ځکه پوهه ترلاسه کول د ټولنې او د هیواد په پرمختګ کې ستر رول لوبولی شي.

مخکنۍ ناندرۍ چې په هیواد کې رامنځته شوي وې، دا د ناپوهۍ سترې بیلګې وې، چې موږ ورسره مخ شوي ؤ، ولې داچې په هیواد کې د تعلیمي مرکزونو دروازې پرخلکو تړل شوې وې او ځوانان د بدبختیو له امله بهرنیو هیوادونو ته ستانه اویا داچې په همدې بدبختیو کې پاتې او زده کړې یې ترسره نکړې .

زموږ اوسني نسلونه تل هڅه کوي، چې زده کړې وکړي، دوی په دې هم پوه شوي، چې زده کړې نه یواځې د مادیاتو لپاره دي، بلکې د خپل معنوي شتمنۍ په موخه یې ترسره کوي، نو دا جوته خبره ده، کله چې زموږ ځوانان له پوهنتونونو څخه فارغیږي، ډیري ځوانان په کلونو کلونو بې روزګاره ګرځي ، خو بیاهم دغه لړۍ پر هغو ځوانانو اثر نکوي، چې نوي زده کړو ته یې مخه کړې، خو باید د دوی لپاره دولت لازم اقدامات په لاره واچوي، ترڅو زموږ ډیري ځوانان نورهم زده کړو ته وهڅول شي او خپلې زده کړې ترلاسه کړي.

خو بیاهم هغو ځوانانو ته دو یلو وړ د ì ، چې کله دوی لوړې زده کړې کوي او په دندو ګمارل کیږي او ځینې نور چې دندې نه لري، هغوی دې په خپلو پوهې بسنه نکوي، دوی دې کوښښ وکړي، چې که زمینه ورته برابره وي، رسمي زده کړې د وکړي او که نشوی کولای، خو اکادمیکو ځایونو ته دې لوست لپاره ورشي او مطالعه دې وکړي.

که چیرته هغه وخت یو زده کوونکي د ښوونځي اویا یو زده کړیال د پوهنتون په دوره کې مطالعه کوي، آیا هغه مطالعه به ډیر ژر د دوی په ذهن کې کیناستل او که اوس. نه که فکر وکړو د ښوونځي او پوهنتون لږ یو داسې دوره ده، چې زده کوونکی او زده کړیالان تنها فکر یې خپلو کتابونو او چپټرونو ته وي، صرف محدوده مطالعه لري او هم ورسره دومره وخت نه وي، چې د نورو کتابونو لوستنه وکړي، کومه مطالعه چې Ïì æ کوي، هغه هم د خپلو سمینارونو لپاره موضوعګانې چمتو کوي او پرې خبرې کوي، خو بهتره Ïå¡ که سړی څومره ډیر فزیکي کارونه ولري، ترڅنګ یې یو څه ناڅه مطالعه وکړي ، ډیر د دوی د ذهن په روښانولو کې اغیزمن تمامیدلای شي.

باید د خپلو کارونو ترڅنګ لوست ته هم ځای ورکړو، که هغه په کور کې وي اویا په کتابتون کې ، هغه غوره داده، چې خپل ځانونه په مطالعې روږدې کړو. ځکه هغه څوک چې نوي مطالعې ته مخه کوي، کله چې کتاب را واخلي یو څو کرښې ولولي، کیداې شي زړه به یې په تنګ او ذهن به یې په نورو سوچونو کې غرق وي. نو نباید دغه کار پریښودل شي، یو څو ورځې سړی پرځان فشار راوړي او ورسته بیا د مطالعې په خوند پوهیږي ، چې مطالعه د څه لپاره او ولې مطالعه کیږي. نو پدې سره ددې پوهنیزه څانګه نورهم وده کوي کوم څیزونه چې دې له کتابونو اخیستي، هغه له نور سره شریکولای شي.

مطالعه په آرام ذهن باید وشي، ځانګړې وخت ورته په پام کې ونیول شي، کوم مضمونونه چې تحلیلي او څیړنیز وي، هغه لپاره بیل وخت او کوم مضمون چې یادیږي او د کیسو په بڼه وي، هغه لپاره مناسب وختونه لوستونکي ځان لپاره غوره کړي، چې کوم وخت د لوستونکي په ذهن کې کوم مضمون ژر ښه کار کولی شي.

دلوړو زده کړو تراخیستو بیا نورې مطالعې ته مخه کول دا تجارب څرګندوي، چې په کورتو غوړي واچول شي، نودا په دې مانا چې هغه زده کړو ته لاقوت وربښي او د انسان ذهن داسې روښانه وي، لکه څنګه چې دی په رښتني نړۍ کې هرڅه پر خپلو سترګوویني او د مطالعې په برکت بیا د خیالاتو نړۍ ته مخه کوي، چې کوم څیز یې د خپل ذهن د پراخیتا له مخې کشف یا جوړ کړل نو بیا انسانان دورځني سهولتونو لپاره ګټه ترینه اخلي.

انسان ډیر عاجز مخلوق دی، خو د توان او پوهې له مخې بیا لوی خدای (Ï) داسې پوهه وربانډې لورینه کړېده، چې د نړۍ پرسر غیر له طبیعي موجوداتو چې الله تعالی پیدا کړې، دانورهرڅه د انسان دلاسونو برکت ده، چې جوړ کړې دي، خو دا د دوی د علم او پوهې برکتونه دي، بې له پوهې هیڅوک نشي کولای چې دغې لورې ته حرکت وکړي، ځکه بې علمه سړی د ړوند په شان وي. نو له دې ټولو خبرو جوته شوه، چې اوس هم وخت شته چې پرخپلو ماشومانو زده کړې وکړو او هغوی د علم لورې ته لاپسې وهڅو. ترڅو راتلونکې د دوی روښانه او د خلکو د هوساینې په موخه خدمتونه ترسره کړي.

همدارنګه په لومړي سرکې د قران تلاوت او د دیني کتابونو لوستنه له ټولو کتابونو ضروري ده، ځکه چې څوک په خپل دین او اسلام کې معلومات ونلري، بیا هغه که څومره نورو عصري زده کړو ته دوام ورکړي او زده یې کړي ولري، ولې دومره موثریت نلري، خو دیني زده کړې چې ترڅنګ کړي وي، بیا نورو زده کړو ته یې نور هم وده ورکوي.

لوست نه یواځې په کتابونو وشي، بلکې لوست له ورځپاڼو، مجلو، جریدو او ټولنیزو شبکو هم کیدای شي، ځکه دا هغه څه دي، چې دورځني موضوعګانو په اړه خلکو ته پوهاوی ورکوي، چې دا مطالعه په اوسني ځوانان ډیرې اغیزې شیندي¡ چې Ïټولو لپاره موضوعګانې تازه او هریو ورسره مخ وي.

مهمه ټولو لپاره ګڼو، چې د لوست فرهنګ په اړه لوستي ځوانان، د جوماتونو ملاامامان ، د ښوونځیو ښوونکي او قومي مشران عامه پوهاوی ورکړي، د لوست ښیګڼې او ګټې خلکو لپاره بیان کړي، ترڅو ویده ولسونه له خوبه راویښ او ددې ستر نعمت چې الله (Ï) موږ ته را پیرزو کړې مخه کړي.

امیني

عدالت په عمل کې راتلای شي

څنګه به عدالت راشي، چې زه ستا ملاتړې واوسم او ته زما سرسخت رقیب. Ôå تاته وایم چې ته غل یې او ته ماته وایې، چې ته غل یې. نو ښه حاکم سړی بیا څوک ده؟ ولې دغه هیواد دومره د بې عدالتۍ په راګیر شوي دام کې د پرمختګ لوري ته ځان نه باسي، چې ښه کس پکې هم د فساد په تور ککړ وي او هغه چې فساد کې ښکیل وي، نو بیا دومره ځان په خلکو کې محبوب و شمیري ته به وایې، چې رښتیا هم دغه کس د فساد پر وړاندې لوی مبارز دی.

ښه سړی به خامخا د تهمتونو څخه خالي نه وي، ټولنه به هم ورته ځانګړې درناوی نه کوي او د خپلې ادارې کارکوونکي به وایي، چې مخ یې هم ونه ګورم.

مسؤل چارواکي، که د دولتي ادارو څخه دي او که د æلس استازي دي، ټول بیا د خپل سپیناوي په اړه خبرې کوي، خلکو ته ځان قدرمن ښیي، خو هیڅوک به نه وي، چې د دوی پر کړنو او د فساد له حال نه یې خبراوی ونلري. نو د خلکو پر سترګو خاورې دوړولو ته څه اړتیا Ïå، ولې دوی خپلو مسؤلیتونو ته نه ځیر کیږي. هرڅوک د خپل په توان او زورواکۍ باندې حاکمیت لري، څه چې زړه یې وي، هماغسې کړنې ترسره کوي، څوک شته چې ویې پوښتي او د عدالت میز ته راکش کړي¡ نه ځکه فسادګر پرخپل وجدان باندې حاکمیت نلري، د پردي او د ملت حق ورته شخصي مال ښکاري، ولې بیاهم مسؤلین ورته پام نکوي، چې عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي کړي. افسوس دی، چې هر څوک د فساد پرضد خبرې کوي او وایي، نور د فساد ریښې له منځه وړو، هیوادنۍ مینه د ټولو هیوادوالو په منځ کې خپره شي او د احساس ډکې ویناوې به کوي، خو عمل یې بیا څه وي او څه نکوي. د فساد د له منځه وړلو لپاره ناستې او غونډې جوړوي، غواړ Ï ¡ چې دغه ناشوني پدیدې له ادارو او ټولنې څخه ریښې یې غوځې شي. نو په دې اړه به ډیرې وګړې خبرې کوي. دولتي ادارو مامورینو ته ورکشاپونه په لاره اچو Ï ، رسنیو کې عامه پوهاوی ورکول کیږي؛ خو د عمل جامه تراوسه چاندې په تن کړې، چې ووایې نور فساد ختم دی. په میلیونو او میلیاردو پیسې هیواد ته راغلې، ولې دا هیواد تراوسه هم د پرمختګ لوري ته ندې وتلی؛ نو چې زه خپل ځان جوړ نکړم او اصلاح له ځانه پیل نکړم، هیڅکله به ټولنه جوړه نشي.

دغه عدالت شو، دې ته عدالت نشو ویلای. قانون ته ځان ملامتولی شو، قانون جوړه ؤ ، نو بیرته د ښنو لاندې کیږي. په نره که څوک خبره وکړ Ï ، بیا د هغه په ستونې پښه ایښودل کیږي، چې ګویا ددې ناروایانې خلکو ته په ډاګه کوي.

ترکله به داسې حالات وینو؛ خو پوښتنه یې نشته اوڅنګه ورته د پای ټکی ورکړو، چې دغه هیواد دیو ستر ناورین څخه راووځي او کومې موخې چې په قانون کې لرو ورته رسیدګي وشي.

رښتیاوې شته، ولې د رښتیا ویلو توان مو مړ دی، ځکه واقعت تریخ وي، که وواېو نو چاته وواېو، که ځان پرې غلي کړو، نو زړونه مو درد کوي، څومره ښه معقوله ده، چې ویلي دي: (که ونه وایم خدای مې وهي او که وواېم نو بنده مې وهي.) راځې چې اولنۍ خبره پرځان عملي کړو، بنده به څه وي او وهلې خو د خدای له وهلو ځان وساتو دا به ښه وي.

واقعیتونه باید په ډاګه شي، که هرڅوک ظالم وي او په ټولنه کې د ظلمت تغر غوړوي، نو باید په مخنیوی کې سپر وواسو، ځکه د ظلم مخنیوی لوی جهاد دی.

فساد یو ناشونې پدیده ده، چې سړی هرې لورې ته باسي، نو په ټولنه او اداراتو کې فساد چې وي، د بریالیتوبونو مخنیوی یې ډیروي او ناروا وې له حده زیاتې وي، ځکه د هر ناروا عمل لومړنی سرچینه فساد Ïå، که فساد نه وي، نو هرڅه به ګل او ګلزار وي.

نو راځئ چې په هیواد کې د عدالت ونې کینوو، چې ثمره یې ټولو افغانانو ته ورسیږي، بیا هلته د نظام حاکمیت په ټینګیدو د ظلم او بربریت مخه ډب کیدای شي.

که عدالت همداسې ترینګړې وي، بیا به موږ ټول چپه خوله کینو چې هر ظالم څه وغواړ Ï ، هغه به کوي، خو بیا د نارو وهلو حق هم نلرو، چې نیمګړې مبارزه وکړو.

د کارونو په لومړیتوبونو کې باید په ځان کې یو ستر بدلون راولو، خپل ځان له نورو سره پرتله نکړو، چې پلانکي دا کوي، هغه کوي؛ نه پلانکی باید له هغه کاره منعه شي، ښې اوبدې لارې ورته وښودل شي، دا زما او ستا لارښودنه ده، چې خلکو ته یې وکړو، ځکه زما او ستا په خیر به هم ډیر کسان په ټولنه کې لاښه وځلیږي. نو هیواد به نه ملامتوو، خپل ځان باید ګرم وبولو، چې خپلې کړنې مو په سمه ترسره نکړو، هیڅ به د پرمختګ شاهدان ونه واسو.

ستانکزی